# بوډا بښکاري



لیکوال:
ډاکتر معمار حشمت الله اتمر
میاشت - لیندی / کال - ۱۴۰۲

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



## لیکي پوهه:

**سرلیک:** بوډا ښکاري
**لیکوال:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**اېډېټور:** ډیپلوم انجینیر صفی الله ,, فردوس ،،
**طراح او ډیزان:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:** لاجواب مطبعه، د کابل ولایت واټ، کابل
**چاپشمېر:** ۱۰۰
**چاپ نېټه:** لیندۍ میاشت / کال ۱۴۰۲
**ګرځنده اړېکه:** +۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸
**برېښنالیک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګڼې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.......................................................................................

# لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

پخښنتۍ.......................................... ۱
بسم الله الرحمن الرحیم ............................ ۲
لیکي پو هه:........................................ ۳
لړلیک............................................... ٤
ننتوزې ............................................. ٥
د یادښتونو له پاره: ................................. ۷
ناانډوله (ناول، کېسه یا داستان) ......................... ۸
د چاپ شویو کتابونو لېست ........................ ٦۹
د کار لاندې کتابونو لېست ......................... ۷۲
د امکان او وخت په صورت کې......................... ۷۳
د پخښنتۍ څټ ........................................ ۷٤

(c) ketabton.com: The Digital Library



.......................................................................................

## ننتوزې

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی. عظمت، د ټولې نړۍ موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل چې یوه حقیقي داستان (ناول) و لیکم ځکه زما د کتابونو مینه وال یوازې انجینران نه دي او نه باید اوسي، نو ځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې ځانګې مینه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړې چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



.................................................................................

ځو مو په وجود کې د غرور نخښنه پاتې نه شي او د اسلام د دين له سپيڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**يادونه:**

د نظر ټولو خاوندانو او هغه ځوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هېله کېږي چې خپل غوښتنې او وړانديزونه د دې کتاب د بيا کتنې له پاره زما سره شريک کړئ.

Whatsapp: ٠٠٩٣٧٩٩٣٧٦٩٩٨

په در نښت

ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د يادښتونو له پاره:

۱- ..............................................................................

۲- ..............................................................................

۳- ..............................................................................

۴- ..............................................................................

۵- ..............................................................................

۶- ..............................................................................

۷- ..............................................................................

۸- ..............................................................................

۹- ..............................................................................

۱۰- ..............................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ناانډوله (ناول، کېسه یا داستان)

پلار یې پرې نوم چجو ایخښی و.
هغه له کوشنیوالي نه له چج سره مینه درلوده او له رنګه هم لږ تور و، نو ځکه پلار یې پرې نوم چجو ایخښی و.
هغه د لغمان ولایت په قرغیو ولسوالۍ کې، په یوه بې زده کړې کورنۍ کې زیږېدلی و،
خلکو به ورته مثلي ویل.
پلاریې خپل کور نه درلود.
د یوه شتمني کورنۍ (د خان په کلا) کې به یې ژوند کوه.
د خانانو کلي په لاندې ډول وو:
په منځ کې به یې د خان کلا او د کلا د منځ نه به ویاله هم تېره شوې وه.
دې ویالې درې ګټې درلودې:

۱- د انګړ په سوړ والي کې به یې رول لوبوه.

۲- د خان د کور زنانه او کوشنیانو به ترې د ابو اخېستلو، لوښو او کالیو منځلو له پاره ګټه اخېسته او دې ته اړتیا نه وه چې له کلا د باندې و وځي.

۳- د انګړ ونو، ګلانو ته به یې ورنه اوبه ورکولې او هم به یې د بتکو په ساتنه کې ترې ګټه اخېستله.

د کلا په کنجونو کې به یې اوچت، اوچت برجنو درلودل چې د دفاع په وخت کې به یې ترې ګټه اخېستل کې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



برجونه به تر دوې پوړونو اوچت او په هر پوړ کې به یې د دفاع له پاره تېرکښونه درلودل.
په درېیم پوړ کې به یې مېلمستون درلود، چې درې خوا وو نه به د بهر او شنو ځمکو ننداره کې ده.
مېلمستون به خورا ډېر هوا داره و او په دوبي کې به د ښه باد چلېدو امکان درلود.
د کلا شا او خوا به د کسبګرو (کسبه کارانو) لکه:
دلاک، مثلی، تېار، ترکاڼ، ختګر، ژرنده ګړی او ناظر کورونه ول.
مګر دا کورونه د هغوی خپل نه ول، بلکې ټول به د خانانو ول.
هغوی به ټول په کورونو کې، بې کرایې او مفته توګه ژوند کوه.
د کرونګرو (بزګرو) له پاره کورونه چې هر کور به یو دهلېز(دالان)، په ښي او کېڼ خواته کوټې او همدا راز کوشنی غولی او تشناب یې هم درلود.
د غواګانو له پاره ډېره لویه غوجل چې د ټولو ګاونډیانو او کروندګرو (بزګرانو) څارویو له پاره به یې بسنه کوله.

همدا راز د ژمي له پاره د تناره کوټه او د دوبي تناره صوفه درلوده.
د کلا دننه او ور(دروازی) تر خوا به یوه کوټه د کلا د امنیت له پاره هم درلوده چې د ور خلاصولو او تړلو څاروندی (مسئول) به په کې ژوند کوه.

د کلا په یوه کنج کې به د کلیوالو د زنانه له پاره چړچوبی ( کناراب، بیت الخلا) هم درلود، مګر نارینه به ټول د باندې وتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.............................................................................................

پلار يي هم د خان د کارونو تر څنګ په دام کې نولو او الوتونکو نيولو خپل وخت تېر و.
چجو په پټکو کې نولو او ليندۍ (غولکه) وېشتلو کې ډېر مهارت درلود.
په پټکو کې به يې چتکې، ډيبک، رنځاګی او ډېرې کوشنۍ مرغۍ لکه زېړ زيړکې هم نيولې.

هغه به د وطن مشهوره او موسومي مرغۍ لکه قزلاق، تېکالې، شامتولې په دامنو او جال کې به يې د شپې له خوا مرزان نيول.
چجو به نيول شوې مرغۍ په کليوالو او يا د ولسوالۍ په بازار کې پلورلې، په پيسو به يې د کور د ضرورياتو شيان لکه:
غوړي، چای، بوره، صابون، د اليکېن له پاره تېل، اورلګيد، مالګه او د کور نور ضروريات پرې پوره کول.

کله نا کله به يې د مرغيو د نيولو له پاره د بابا صيب ډاګ چې په لغمان ولايت کې خورا ډېر مشهوره ډاګ دی، د نور ښکاريانو، کليوالو او مينه والو سره ته.

دی په ښکار مين او له کوشنيوالي نه يې د ښکار سره مينه درلوده، هر ښکار به يې د هغو مرغيو په وخت، موسم کې کوه، او د ښکار د وخت پيژندلو کې يې خورا وړتيا درلوده.

هغه په خپل پلار ډېر ګران و.
پلار يې ورته يوه شوکي غولکه جوړه کړې وه چې دا غولکه به تل د چجو په غاړه زوړنده وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................................

تر دې چې د خوب په وخت کې به يې هم له غاړې نه لرې کوله. هغه به د غولکې د ګاڼو ټولولو له پاره د کابل سيند غاړې ته ورته او په کوشنۍ بوجۍ کې به يې کور ته راوړې.

همدا راز به يې د ختو نه ګاټي جوړول او په لمر کې به يې ايښودل چې وچ شي، بيا به يې راغونډول، کور ته به يې وړل او په ژمي کې به يې د مرغيو د ويشتلو له پاره کارول.

چجو به د وزګارېدو په وخت کې د قزلاق د ساتنې له پاره کپسونه جوړول، خپله به يې هم ساتل او د ښکار په وخت کې به يې ترې ګټه اخيستله.

هغه به تل لوڅې پښې ګرزېده او د روانو ويالو پرغاړه به څرګندېده.

ما هم په کوشنيوالي کې د مرغانو سره مينه پيدا کړه او کله چې وطن ته د ښونځيو د ژمنيو رخصتيو په وخت کې له کابله تلم، التبه به مې مرغان لکه:

چرګان، چورګوړي او کوترې ساتلې، د راتګ په و خت کې به مې هلته پرېښودلې، مګر کابل ته د وړلو او ساتنې اجازه مې نه درلوده.

يوه کال زه د چجو سره بلد شوم، هغه ماته يوه قزلاق له قفس سره راکړ او راته يې و ويل:
کوم وخت چې کابل ته ځې نو دا ببړته راکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورسره و منل.
هغه به یوه اندازه شولې را کولې چې مرغۍ ته یې ورکړم.
همدا راز یې ماته د ساتنې چارې و ښودلې.

هغه به په غولکه مرغۍ ویشتلې او ماته به یې هم راکولې، کله ناکله به یې ماته ویل:

ګاټې ټولوه!
زه به هم ځان او هم تاته پرې مرغۍ و ولم.
هغه یوه ښکاري تازي سپی هم در لود او د ښکار په ټولولو کې به یې ترې ګټه اخیسته.

هغه ماته هم غولکه جوړه او د ښکار چل یې راوښود، مګر د ښکار له پاره مهارت او اړین تمرین په کار وو.
کله نا کله به د دوی کور ته تلم.

هغه به تود جواری د کورنۍ تورې ګوړې سره راکوه او هم د هغه ورپنداریې به ماته د جوارو پلۍ او نینې په جیب کې اچولې.

چجو د خان د کلا په مخ کې یوه لویه دبره او هر راز ونې په کې وې.

هغه به په غولکې باندې په ونو کې مرغۍ ویشتلې او زه به یې هم هڅولم چې په راکړل شوې غولکې باندې مرغۍ و ولم، مګر دا کار زما له پاره پیچلې و.
ځکه په دې کار کې بې تجربې وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله به هغه زموږ دېرې ته راته، د مرغيو ښکار به يې کوه او مازديګر ناوخته به خپل کور ته تله.

زموږ د انګړ په منځ کې د نارنجو يوه غټه ونه وه، ونه خورا لويه او لوړه وه او شونې وه چې تر سلو کلو يې عمر ډېر و.

ونې کې د شپې له خوا راز راز مرغان کې ناستل او هر مازيګر، مخکې له ماښام نه به په ونه کې د شاروګانو او نورو مرغيو شور ماشور او غږونه اورېدل.

يوه ورځ چجو ماته و ويل:
کې دی شي يوه ماښام ستاسو کور ته راشم او تاته مرغۍ و ولم؟
ما ورته و ويل:
د انۍ (نيا) نه مې زه اجازه واخلم.
هغه و منله او وې ويل:
کورته لاړ شه او د انۍ نه دې اجازه واخله.
ما ورته و ويل:
ته په دېره کې اوسه!
هغه و منله،
دېرې لورې ته روان شو.
زه کور ته لاړم او د نيا څنګ ته نږدې شوم.
نيا مې را ته و ويل:
څه دې ويل؟
ما ورته و ويل:
چجوغواړې نن ماښام ماته د کور په نارنج ونه کې مرغۍ و ولې.
هغې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



............................................................................................

کومه ستونزه نه شته.
زه يې پېژنم.
ما خپلې انې نه مننه و کړه او بېرته د باندې خوا په منډه شوم.
هغه غولکه په لاس او د مرغيو انتظار يې کوه.
زه ورته نږدې شوم او ومې ويل:
نيا مې و منله:
کومه ستونزه نه شته.
هغه ډېر خوشحاله شو او ماته يې و ويل:
زه اوس کور ته ځم.
ګاتې را ټولوم بيا ماښام ستاسو کور ته راځم.
هغه د خپل کور په لور روان شو.

زه د کلي د نورو کوشنيانو سره په ټال کې اخته شوم.
مازيګر شو او د ماښام په انتظار وم.
هوا لږ، لږ مخ په سړېدو شوه، ماښام را نږدې کې ده، او زه ورته خوشحالېدم.

ماښام را ورسيد، هوا لږ تياره شوه.
د کلي ملا د ماښام د لمونځ آذان و کړ.

د کلي نارينه هم سټړی، ستومانه چې له ورځنيو دندو نه راغلي وو، د جومات د صوفې د ديوال د پاسه ناست، د سټريا وېستلو او د ماښام د لمانځه په امېد وو.
چا چې اودس درلود ماجت (مسجد) خوا ته او چا چې اودس نه درلود د ويالې خوا ته د اودس کولو له پاره روان شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



................................................................................

زه چې ډېر کوشنۍ وم د لوې لارې په لور د چجو په انتظار شوم، و مې کتل چې له لرې نه چجو را ښکاره شو.
زه ډېر خوشحاله شوم.
هغه رانږدې کې ده او زما خوشحالي هم ډېرېده.
هغه نږدې شو او ما ته يې و ويل:
دا ګاټي در سره واخله!
ما ګاټي واخيستل او کلاته روان شو.
موږ کلا ته ننوتو او له لنډ مزل وروسته دوپيمې او يا منځنۍ کلا ته ورسېدو.

د کلا دروازه مې خلاصه کړه او نارنج د ونې خوا ته چې د ويالې پر غاړه وه، و رسېدو.
ما د ګاټو کڅوړه پر ځمکه کېښوده.
چجو و ويل:
څلور پينځه دانې څنډ لرګي او اور کوتۍ (اور لګيد) راوړه.
ما اور لګونی او څنډو لرګي راوړل.

هغه هم غولکه له غاړې را و وېسته او له ځانه سره يې چک کړه.

بيا يې راته د څنډو لرګي د لګولو او نېولو چل وښود، هغه ښکار نه و پيل کړی چې زما نيا را ورسېده.
هغې و ويل:
ګورئ کوشنيانو!
په ونه کې چرګوړي او چرګانې هم کېښني، تاسو کوښښ و کړئ چې هغه له منځه وې نه سئ.!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



چجو و ویل:
سمه ده!
زه پوهېږم.
زما نیا بېرته لاړه، ما څښدو لرګی ولګاوه او چجو ته مې و ویل:
څه و کړم؟
هغه و ویل:
اوس څښدو لرګی لوړ و نېسه، تر څو چې مرغۍ و وینم.
ما څښدو لرګی و نېوه او هغه د مرغیو په وېشتلو پیل کړ.
په یوه ساعت کې یې تر شلو ډېرې مرغۍ و وېشتې.

کومه یوه مرغۍ چې په ویالې کې غورځېده هغه به په خپله په کوشنۍ ویالې کې ګډ شو او ورسته تر نېولو به یې په چاکو چې د لغمان ولایت د حیدرخانیو په بازارکې جوړ شوی و، حلاله وې او دیوال خوا یې ایښودې.

هغه د ونې لاندې د تیتو څانګو مرغۍ و وېشتې.
وې ویل:
نورې مرغۍ نه ښکارې!
کې دی شي خلاصې شوې وي او یا هم په دنګو څانګو کې وي.
ما ورته و ویل:
هغه غټې مرغۍ هم و وله!
هغه و ویل:
غټې مرغۍ شارو نومېږي.
د هغه غوښه ډېره کلکه او ژر نه پخېږي؛
له بله خوا خلک وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شارو غوښه حرامه ده.
ځکه چې:
شارو د انسان او نورو حیوناتو ژبه کوي.
هوا نوره هم تیاره شوه.
د ماسخوتن د لمونځ آذان ترغوږ.و شو.
چجو مرغۍ راغونډې او بیایې حساب کړې.
پوره دوه ویشت مرغۍ وې.
هغه ماته و ویل:
څنډو لرګی مړ کړه چې کوم خواته اور خپور نه شي.
ما څنډو لرګی مړ کړ او هغه ته مې و ویل:
اوس خورا تیاره شوه.
هغه و ویل:
د کوټې نه الیکن راوړه.
زه کوټې ته د ننه شوم او الیکڼ مې راوړ.
بیا هغه و ویل:
مرغۍ واخله او سبا یې پخې کړه.
ما ورته و ویل:
زه ټولې مرغۍ نه اخلم.
تا ډیر زیار وېستلی دی.
ځانته دې هم واخله.
هغه و ویل:
دا مې د تا له پاره ویشتې دي، نو ټولې یې واخله.
هغه زیاته کړه!
زه د ځان له پاره، سبا مرغۍ و لم.
ما د هغه خبره و منله.
هغه اضافي ګاټي ماته پرېښودل او وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرګاټو سبا ښکار و کړه، تر څو بلد شې.
زه درنه لاړم، د خدای په امان.
ما هم و ویل:
خدای په امان.

ما مرغۍ کوټې ته دننه کړې.
د تره ښځې مې و ویل:
سومره ډېرې مرغۍ!
په رښتیا چې چجو ښه او زبردست ښکاري دی.
هغه خو اوس کوشنۍ دی.
د هغه نه به یوه ښه او زړور ښکاري جوړ شي.

زه خپل خوب ځای ته لاړم، د شپې مې ډېر ښه خوب و کړ او سهار چای ته پاڅېدم.

و روسته له چای خوړو د تره ښځې مې غږ و کړ:
د مرغیو نه درته څه پاخه کړم؟
ما ورته و ویل:
ترې کلولې پاخې کړه!
هغې و ویل:
سمه ده!
ته غرمې ته لږ و ختي راشه زه به تاته کلولې پاخې کړم.
ما و ویل:
سمه ده.
زه د کوره و وتم او خپله غولکه مې هم واخسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګاټي مې په کوشني جېبونو کې ځای پر ځای کړل او کميس مې خورا دروند شو.
د کوره و وتم او مخ پر دېرې روان شوم.

غولکه راسره وه او پر الوتونکو مې ټکان (ګذارونه) کول، مګر مرغۍ ويشتل راته آسانه نه ول.

چجو زما نه پېنځه - شپږ کاله مشر و، مګر زما ښه ملګرى شو.
هر کال چې به د ژمي رخصتيو کې وطن ته تلم، لومړى به مې د هغه پوښتنه کوله چې چجو چېرې دى؟

هغه به هم زما په راتګ خوشحالېده، ما به وربانده پټکې، دامونه، غولکې جوړولې او دواړو به يوه ځاى ښکار هم کوه.

زموږ په دېره کې خورا اوچت او غټې د توت ونې وې، نورو کوشنيانو به په کې ټالونه اچولې وو، ماته به يې هم د ټال خوړلو وخت را کوه.

هر چا به کوښښ کوه چې زما سره ملګرى شي او زه به يې نورو کوشنيانو نه نازولم.

يوه ورځ مې له چجو وغوښتل چې زما له پاره ټال واچوي.
هغه و ويل:
د ټال اچولو له پاره غښتلې رسۍ ته اړتيا شته!
هغه و پوښتل:
په کور کې رسۍ لرئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما و ويل:
کورته لاړ شم، و ګورم.
زه کور ته د ننه شوم او د انۍ نه مې و پوښتل:
رسۍ لرو؟
هغې و ويل:
د څه له پاره؟
و مې ويل:
د ټال د اچولو له پاره!
هغې و ويل:
نه!
دومره اوږده او کلکه رسۍ نه لرو.
د کور نه و وتم.
چجو ته مې و ويل:
نه !
موږ په کورکې اوږده او کلکه رسۍ نه لرو.
هغه و ويل:
راځه چې د لوښو نه رسۍ جوړه کړو.
ما و ويل:
سمه ده!
لوښې به له کومه کړو؟
هغه و ويل:
د سرخکانو په کلي کې لوښې ډېرې دي.
د هغه ځای خلک لوښې د کابل د سيند له غاړې نه ريبي او د سوزولو له پاره يې کورته وړي.
ما و ويل:
هو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د موټر نه مې ولیدل:
هغوی د انګړ په شا او خوا هم لوښې د دیوال په توګه تاوي کړې وې.
کله نا کله یې د وچولو له پاره په بامونو کې  او هم د پلور له پاره د سړک غاړې ته غونډ وي.

هغه و پوښتل:
الته څوک پېژنې؟
ما و ویل:
الته زما د ماما ګانو او تورۍ (ترور) کورونه او د هغوی ځمکې دي.
هغه خوشحاله شو!
وې ویل:
څومره ښه کار!
سبا به ګډ لاړ شو.
ما و ویل:
سمه ده، سبا به لاړ شو.
ورځ تېره شوه او ماښام ورسېد.
هغه خپل کور ته لاړ.

زه هم د نورو  هلکانو سره کور ته لاړم.
شپه تېره شوه او سهار شو.

مخکې تر دې چې له کوره و وځم د نیا کوټې ته و لاړم او ورته مې و ویل:
زه سرخکانو کلي ته ځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې و پوښتل:
د څه له پاره؟
آیا مور دې درته څه ویلي دي چې توړۍ ته دې ورسوئ؟
ومې ویل:
نه!
د لوښو له پاره.
هغه په خندا شوه او وې ویل:
اوس پو شوم.
ته خورا شوخ یې، پام کوه، ځان ژوبل نه کړې.
بیا به دې د پلار او مور په جنجال کې پاتې شم.
و مې ویل:
سمه ده، زه کوښښ کوم.
بیا یې راته و ویل:
کله چې دې خپله توړۍ ولیده زما سلامونه به پرې هم و وایې.
ما و ویل:
سمه ده.

بیا د کوره و وتم او دېرې خواته چې د کلي په مخ کې وه؛ و وتلم.
چجو هم د الوتونکو په وېشتلو بوخت و.

کله یې چې زه ولیدم، نږدې شو.
د جیب نه یې څلور وېشتل شوې مرغۍ راکړې او وې ویل:
دا مرغۍ کور ته وې سه او ژر بېرته راشه چې سرخکانو کلی ته
ځو.
ما و منله او کور ته مې مرغۍ وېوړې.
بېرته راغلم او د چجو سره د سرخکانو کلي ته روان شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه لاره کې به يې ويل:
خدای و کړې چې لوښي ډېرې راکړي چې غټه رسی ورنه جوړه او د جومات د خوا په غټه ونه کې يې واچوم، چې ستا ټال تر ټولو اوچت ټال وي.
ما و ويل:
هغه به ماته ډېرې لوښي راکړي.
هغه زما توری او الته مې ماما ګان هم شته.

د پخښو (پلې) لاره وه؛
هغه به په لاره کې پښتو لنډۍ هم ويلې.
يوه ګړۍ وروسته د سرخکانو کلي ته ورسېدو، هغه د کلي نه زما د توری د کور پوښتنه و کړه.
کوشنيانو مورږ ته د توری کور وښود.
مورږ کور ته نږدې شو، ور مو و ټکوه، د توری کوشنی زوی را و وت او وې ويل:
د چا سره مو کار دی؟
ما و ويل:
توری سره مې کار دی.
هغه و ويل:
ته څوک يې؟
ما و ويل:
زه ستا د توری زوی يم.
هغه په منډه کور ته ننوت، او څو شېبې وروسته توری مې دروازې ته راغله، هغې و پېژندم.
زه نږدې شوم، ما د هغې لاسونه ښکل کړل.
هغې هم زما سر او مخ ښکل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



......................................................................................

بيا يې د ميلمه کوټې ته بلنه را کړه.
موږ کوټې ته ننوتو او پر توشکه کېناستو.
د توړې کوشنيانو زموږ تر شا يې بالښتونه کېښودل.
لږ زنډ وروسته يې د شيدو چاى راوړ او وې پوښتل:
د سهار چاى مو خوړلى دى؟
موږ و ويل:
هو!
بيا هغې تود جوارى هم راوړ او وې ويل:
دا په ګوړې خوږ جوارى دى.
وې خورئ!
کې دى شي وږي شوې اوسئ،
د پخښو مزل مو کړى دى.
بيا يې زما د مور، پلار، ورونو او خويندو پوښتنى و کړې.
وې ويل:
کله له کابل نه راغلې؟
ما و ويل:
يوه اونۍ کېږي.
وې ويل:
يوازې راغلى يې او که پلار سره دې؟
و مې ويل:
نه!
يوازې راغلى يم.
بيا چجو و ويل:
موږ د لوښو له پاره راغلي يو.
هغې و پوښتل؟
په لوښو څه کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چجو و ویل:
ده ته ټال جوړ وم.
هغې و ویل:
سمه ده!
څومره چې غواړئ، وې یې سئ.
بیا یې چجو ته و ویل:
کوښښ و کړه چې زما خوریې درنه ژوبل نه شي.
هغه له یوې خوا نازولی او له بلې خوا اختر هم نږدې دی.
ده ته ډېر غښتلی ټال جوړ کړه!
چجو و ویل:
سمه ده!
زه به ورته غښتلی ټال جوړ کړم.
بیا چجو له ځایه پاڅېد او وې ویل:
مورې ځو.
تورې مې و ویل:
چېرته ځئ؟
اوس غرمه نږدې ده،
ډوډۍ و خورئ!
بیا لاړ شئ.
مورې و ویل:
مننه کوو.
مورې ځو.
هغې خپل زوی ته غږ کړ.
زوی یې راغی او وې ویل:
څه وایې؟
مور یې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی د لوښو ځای ته یوسه!
هغه و ویل:
راځئ!

موږ حرکت و کړ او د لوښو ځای ته لاړو.
چجو غټ پنډ خوښ او وې ویل:
دا پنډ راته په شا کړئ!
زما د توړی زوی پنډ ور په شا کړ.
د دریدو سره سم ترې چپه شو.
زما د توړی زوی و ویل:
داسې پنډونه ته نه شې وړئ!
باید چې یوه مشر کس مو له ځانه سره راوستی وی.
چجو و ویل:
اوس شوی ده.

بیا زما د توړی زوی و ویل:
تاسو دلته انتظار و کړئ!
زه یوه خر را ولم، تاسو ته به د یوه پنډ پر ځای دوې پنډونه لوښې وتړم.
تاسو به، پرته له ستونزو، کورته لاړ شئ!
موږ د سړک تر غاړې سیوري ته کېناستو.
څو دکیکې وروسته هغه خر را وست.
چجو او زما د توړی زوی د لوښو پنډونه پر خره و تړل او موږ ته یې و ویل:
اوس کولای شئ چې کور ته لاړ شئ!
ما ورته و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



.................................................................................

خر به څوک بېرته راولي؟
هغه و ويل:
د خره غمه مه کوئ!
هغه راپرېږدئ!
کولای شي بېرته کورته راشي.

موږ په خوشحالۍ سره مخ په کور روان شو او يوه ګړۍ وروسته، بېرته کور ته ورسيدو.
چجو لوښي د نور کوشنيانو په مرسته له خر را کښته کړې او خر يې بېرته لارې ته سم کړ.
خر سر ټيټ وا چاوه او د سرخکانو پر لور يې حرکت و کړ.

لوښي ډېرې وچې وې او چجو هغه په بيالې کې کېښودې تر څو لمدې شي.
دوې ورځې لوښي په اوبو کې وې.
پس له دوې ورځو چجو دېرې ته راغی او ماته يې و ويل:
لوښي د رسۍ جوړولو له پاره تيارې دي.
زه به خپل مشر ورور ته غږ کړم چې رسۍ جوړه کړو.
ما و ويل:
سمه ده!
هغه کور ته لاړ او خپل مشر ورور يې راوست او په خپله يې لوښي له ويالې نه و ويستلې،
دواړو په ګډه د رسۍ په جوړولو پيل کړ.
هغوی به رسۍ جوړوله او بيا به يې د ونې څانګو سره اندازه کوله، تر څو لنډه نه وي.
رسۍ اوبدل (جوړول) خلاص شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چجو ونې ته و خوت.
مشر وروړ یې رسۍ ورکړه او وې ویل:
دواړه خوا یې ښې غوټه کړه، هغه رسۍ غوټې کړه او وېې وېل:
ته هم راپورته شه چې رسۍ شخه کړو.
د هغه وروړ پورته شو.
هغه له ځانه سره یوه اندازه د شولو واښه هم اوچت کړل.
واښه یې د رسۍ لاندې او د څانګې پر سر کېښودل، رسۍ یې ټینګه کړه.
بیا دواړه را کښته شول.
چجو و ویل:
کار خلاص شو.
اوس څوبارې ته اړتیا شته.

ما ته یې و ویل:
خپلو کروندګرو ته و وایه چې:
د ونو نه یوه سم لرګی چې اوږدوالې یې نیم ګز وي پرې کړي.
زموږ تر خوا د یوه کروندګر یوه زوی و.
هغه و ویل:
موږ په کور کې وچ څوبارۍ لرو،
سم دلاسه یې راوړم، د ونې وهلو ته اړتیا نه شته.
هغه کورته لاړ.
ژر بېرته راستون شو،
څوبارۍ یې له ځانه سره راوړ.
چجو او د هغه مشر وروړ څوبارۍ د رسۍ په کوزه خوا کې ټینګ کړ، بیا یې په خپله څو ټالونه و وهل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته يې ماته غږ کړ:
دا دی!
ستا ټال جوړ شو.
اوس په کې بې غمه ټالونه وهه.
ما ټال پيل کړ.
هغه و ويل:
په دې ټال کې دوې کسان هم کولی شي يوه ځای ټال و خوري،
ځکه چې ټال ډېر غښتلی دی.
ما د ورځې نيمه ګړی ټال، بيا به وروسته نورې لوبې کولې.
وخت تېرېده،
ښکار مخ په لږېدو شو،
د مرغانو برکت له منځه لاړ،
کلونه تېر شول،
حکومتي، بد لونونه منځ ته شول.
خلکو د دام په عوض د مرغۍ نيولو له پاره د ملټين د دارو ګانو
نه کار اخيست.
د ورځې په سلګونو مرغۍ، بې ځايه له منځه تللې.
دا يوه بې رحمه کار و،
وروسته له څو کالو چا د مرغانو غږ هم نه اورېده.
کرونده ګر (دهقانان) دې کار ته خوښ ول.
او ويل به يې:
د مرغانو د های او هوی نه، بې غمه شو.
د مرغانو شړل د غنمو پټو نه خلاص شو.
اوس کومه اجل نيولې مرغۍ که پيدا شي، هغه هم کولای شو چې
په غولکه و ولو.
چجو دام ايښودل يې له لاس ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اچې ( لويه دوشاخه لرګی چې په موقت ډول د دام د ټولولو له پاره ترې ګټه اخيستل کې ده) تش کړي.
دامونه يې ټول او د کوټې په چت کې يې و ځړول.
بېرته يې د پټکو کېنولو ته مخه و کړه، مګر مرغۍ نه وې او دی به مازيګر په تش لاس، کور ته روان و.

هغه بل شوک و کړ، لکه د پلار په څېر يې يوه باز د ولايت په بازار کې وا خيست.
هغه يې د ښکار له پاره و روځه او کله نا کله به يې پرې ښکار هم کوه.
ښکار نه وو.
د باز ښکار شوې مرغۍ به يې بېرته باز ته ورکولې چې باز پرې موړ شي.

چجو بيا ماهيانو نيولو ته مخه و کړه.
يوه لوی جال يې واخيست، او د کلي ځوانان يې له ځانه سره ملګري کړل.
هغوی به د ورځې د کڅ او درونتې سيمې ته د ښکار له پاره تلل، ښکار شوي کبان (ماهيان) به يې په خپل منځ کې وېشل او پاتې برخه به يې په بازار کې پلورل.
کله به د ورځې له خوا خپل باز يې له ځانه سره ګرځاوه، غولکه به يې هم په غاړه، تازي سپی ( باټو) به هم ور پسې و، کله به ترې مخکې و.
د ويالو پر غاړه ګرځېده،
د ونوڅانګو ته به يې کتل.
جېبونه به يې له ګاټونه ډک ول، کميس به يې هم خورا دروند و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.......................................................................................

د جېبونو خولې به يې هم شکېدلې وې.
د غاړې تنۍ يې هم خلاصه او د پر توګ پايڅې به يې هم لمدې وې.
دا ځکه چې د يوې مرغۍ د ويشتلو له پاره به، په اوبو کې ګډ شو، ځانه ته به يې پام هم نه و،
يوازې!
مرغۍ به يې په څانګو کې لټولې.
د سهار د چای نه وروسته تر ماښامه به ګرځېده، د غرمې ډوډۍ په خيال کې به هم نه و.
کوم وخت چې تږی کې ده د ويالې په اوبو به يې خپله تنده ماتوله.
د توتانو په وخت کې به يې خپله خېټه په توتانو مړوله او بيا به کور لوري تله.
کله به هم د بېهي د ونی لښتې پرېکولې او د هغه نه به يې کپسونه جوړول.
کپسونه به يې، په بازار او يا کليو کې خرڅول.
هغه د شوک کارونه لړ شول او دی اړ شو چې، د درمندونو پاکولو ته مخه و کړي.
دا کارونه هم موسومي وو، يوازې د غنمو او شولو د درمندونو په وخت کې.

بيا يې د ونو وهل او لرګيو ماتولو کار پيل کړ.
ونې به يې په دربيمه برخه ماتولې او د ونو د خاوند کورته به يې هم وړلې.

د کبانو (ماهيانو) د نيولو کار چې يوازې د ژمي په موسوم کې تر سره کېدل، هغه هم د سياسي بدلونو له کبله مخ په پيکه کېدو شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوی نسل چې د باندنیو (بهر) ملکونه نه راغلي ول، د جال په ځای به یې د جنراتور، لاسي بمونو او د روسانونه پاتې شوي ټانکونو مرمۍ نه ګټه اخیستله.
په دې کار کې به غټ او کوچني کبان له منځه تلل، چې تاوان یې نه یوازې چجو، بلکه ټول ولس ته هم وو.

په دې توګه د ټاټوبي کبانو(وطني ماهیانو) نسل مخ په کمېدو او د بهرني د فارمونو کبان په ښارونو، کلیو او باڼدو کې مخ په ډېرېدو شول.

چجو به خپه ښکارېده، ځکه چې د ده د خوښې کارونه په لړېدو وو.
یوه ورځ چجو ولایت بازار ته د نوي کار او بار په اړه لاړ، فکر یې کوه چې ګوندې کوم نوی کار و مومم.
هغه بازار ته ورسېد.
باز یې په لاس او تازي سپی (باټو) یې هم تر څنګ وو.
په بازار کې اخوا، دیخوا و ګرځېد، څه نوی شی یې پیدا نه کړ.
ډېر ستومانه شو.
بیا یې د لویې ویالې خوا چې باچا ویاله (شاه جوی، پاچا جوی) نومېږي مخه و کړه، ویالې ته ورسېد.

لومړی یې خپله د ویالې نه پر لپو اوبه واخیستې او وې څکلې، بیا یې وروسته په یوه لاس کې اوبه اخیستې او باز ته به یې ورکولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................................................

د ده تر څنګ د هغه تازي سپی هم سر اوبو ته ټيټ کړ او خپله تنده يې ماته کړه.

چجو بېر ته مخ پر بازار روان شو، د يوې غټې ونې لاندې يې خپل څادر چې څو ځايه پيوند شوی او شکېدلي وو، اوار کړ.
ونې ته يې ډډه و کړه، سپی يې هم خوا ته و غځېد.
باز يې پر لاس او غولکه يې هم په غاړه وه.
جېبونه يې خورا درانده وو، ورو، وور يې ګاټي له جېبونو نه خالي کړل، دا يې يوه ګاټی، دايې دوې ګاټي، دا يې درې ګاټي، دايې څلور ګاټي، دايې پېنځه ګاټي، دايې شپږ ګاټي، دايې اووه ګاټي، دايې اته ګاټي، دايې نهه ګاټي، دايې لس ګاټي او دايي ... .
شل ګاټي؛ تر څنګ يې شمېرلې کېښودل او سوچ يې و کړ:
ګوندې مرغۍ په ځانګه ښکاره او زه يې و ولم، مګر د الوتونکو غږ ورک وو.
په ځانګو کې څه نه ښکارېدل.
دی په سوچ کې ډوب شو.
ښار آرامه و، د نن په شان ګڼه ګونه نه وه، نه هم د اوس په شان موټر ول؛ کوم، کوم موټر به د کابل يا د جلال آباد ښارونو نه راغی او يا به هم بېرته روان شول.
موټر سيکلونه او باسيکلونه هم خورا لږ او د خلکو اخيستلو وس هم ډېر لږ وو.
خلکو به مرکز ته په خرو يا هم پلې مزل کوه.
د چجو سترګې به کله پټې او کله به خلاصې شوې.
ورو، ورو پرې خوب راغی او ويده شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



..........................................................................................

په خوب کې ګوري چې یوه موټر یې تر ځنګ و دریږي او یوه تن (کس) چې جامه یې عربانو ته ورته او پر سر یې تور چلتار دی ور نږدې کیږي.
هغه ترې پوښتنه کوي چې:
دا باز او سپی دې خرڅوې!!؟
چجو ورته وایي:
نه!
زه پر دواړو ښکار کوم او ځانته پرې نفقه برابره وم.
بیا عرب و پوښتل:
زه تاته ډېرې پیسې در کوم، کومې چې د ستا او کورنۍ له پاره، د کلونو بس (کفایت) و کړي.
چجو په چرت کې ډوب شو او وې ویل:
زه د وروړ سره مې مشوره کوم، بیا به سبا ته احوال درکړم.
عرب و ویل:
نه!
اوس خپله پرېکړه وکړه!
سبا زه بل ولایت ته ځم.
چجو و ویل:
مشکل نه شته!
بل سبا خو به راځې؟
عرب و ویل:
نه!
بیا به هېڅ کله را نه شم.
چجو و ویل:
لږ وخت را کړه چې ښه سوچ و کړم.
عرب و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه ده !
خپل سوچ و کړه!
لږ څند وروسته یې پرې غږ و کړ.
سوچ دې و کړ؟
چجو و ویل:
هو!
ما خپل سوچ و کړ.
عرب و ویل:
نتیجه څنګه شوه؟
چجو و ویل:
زه موافق یم.
پېسې را کړه، باز او سپی در سره وې سه.
هغه باز ورکړ، سپی له عرب څخه و ډار شو، لږ لرې و درېده
او بیا مخ په کور روان شو.
چجو هر څه سپي ته نارې کړې:
باتو!
باتو!
و درېږه!
مه وېرېږه!
مګر!
سپی ورو په ورو لیرې کې ده.
چجو په غصه شو.
سپي خوا یې منده کړه چې له غاړې و نیسي.
هغه چېغه کړه او وې ویل:
و درېږه سپیه!!!؟
چېرې ځې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



...........................................................................................

په دې وخت کې هغه د خپل په غږ، له خوبه را ویښ شو.
ګورې چې ځای شته مګر جولا نه شته.
خورا خواشینی شو.
پرې د مازیګر لمر راغلی و.
باز یې هم تږی شوی و.
خپلې سترګې یې و مښلې او له ځایه پاڅېد.
دېخوا او هغې خوا ته یې و کتل!
کوم، کوم نفر به په سړک تېرېده.
هغه هم نیت و کړ چې کور خوا ته روان شي.
له ځانه سره یې و ویل:
کاشکې دا خوب نه وی؛
په رښتیا وی.
اوس به مې ډېرې پیسې درلودې او دوکاندارې به مې پرې کوله.
بیا یې و ویل:
توکل په خدای!
هر شی په نصیب او قسمت کېږي.
مازیګر نا وخته کور ته ورسید او باز یې د کوټې په منځ کې کوم لرګی چې ده ورته په دېوال کې ټومبلی و، کېښنو.
خپله ببر ته د باندې شو.
غولکه یې له غاړې خلاصه او جیب ته یې لاس کړ چې ګاټې را و باسې، ګورې چې په جېب کې یې ګاټې
نه شته.
په یاد یې شو چې تر کومې ونې لاندې ویده شوی وو، ګاټې یې له هېره وتلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې خوا او هغې خوا و ګرځېد او څو ګاټي يې پيدا او په جېب کې يې واچول، بيا د ونو پر لور روان شو.

هوا تياره او ماښام نږدې کې ده، مګر د الوتونکو درک نه لګېده.

سترګې يې پر څانګو خښې وې او وې ويل:
ګوندې کومه مرغۍ راشي چې د باز د خوراک له پاره يې ښکار کړم.

دی په سوچ کې و چې يوه اجل نيولې مرغۍ د ونې پر يوې څانګې کېښناسته.
هغه د غولکې کاسې ته ګاټي د ننه کړ او وروسته د نخښې نېولو نه يې پر مرغۍ ټک کړ، او وې ويل:
الله اکبر!!!
مرغۍ بېچاره پر ځمکه و لوېده او چېغارې يې کړې.
هغه سم د لاسه خپل تېره چاکو را و باسته او د مرغۍ خواته يې منډه کړه.

مرغۍ يې و نيوله، پر اورمېګ يې چاکو کش کړ او مرغۍ يې حلاله کړه.
بيا يې مرغۍ وزرپېچه او جيب ته يې دننه کړه، ځمکې ته يې لاس کړ او څه تازه واښه يې و شکول، خپل چاکو يې پرې پاک کړ او واښه يې بېر ته ځمکې ته ګذار کړل.
چاقو يې بند او په بل جيب کې د ننه کړ.
ويالې خواته روان شو.
خپل لاسونه يې و مېنځل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



...................................................................................................

بیا یې په لپه اوبه و څښلې.
وروسته یې خپل مخ هم ومینځه.
بیا یې د ویالې نه څنګ کړ چې اخوا تېر شي، مګر پښه یې و ښوېده
او لویې ویالې کې و غورځېد.
کالي یې لامده شول.
د بیالې نه په غصه و وت او کور ته روان شو.
کورته ورسېد .
کوټې ته د ننه شو، اور لګید یې واخیست او د ځراغ بلۍ لورې ته
روان شو.
ځراغ (شیطان ځراغ) یې روښانه کړ، بیا د باز خوا ته روان شو.
مرغۍ یې له جیب نه را و وېسته او د ښکو په پاکولو لګیا شو.
مرغۍ یې پاکه کړه او باز خوا ته یې و نیوله.
باز هم مرغۍ په پنجالو کې و نیوله او پر خوراک یې پیل کړ.
په دې وخت کې ورور یې کوټې ته راغی او وې ویل:
چجو!
راشه د ماښام ډوډۍ تیاره ده.
هغه و ویل:
څه شی دی؟
ورور یې و ویل:
د کچالانو پیاوه او جواری دی.
اوس خو نه ستا کار او بار شته او نه زما،
پخوا به هره شپه د مرغیو پیاوه وه.
هغه ډوډۍ و خوړه او تریخ چای یې په پیاله کې واچاوه، خپل د
خوب کېسه یې ورور او ورېنداري ته و کړه.
هغوی په خندا شول او وې ویل:
کاشکې خوب نه وی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



......................................................................................

موږ به اوس پیسې درلودې.
هغه بېر ته خپلې کوټې ته راغی.
د عرب په سوچ کې و.
خپله توشکه یې اواره کړه، بالښت یې سم او سر یې پرې کېښود.

وخت تېر شو.
لومړی یې باز مردار شو.

څو کاله وروسته یې سپی هم مردار شو.
هغه ته یوازې غولکه او څو دامونه پاتې شول.

مرغۍ ډېرې لږې او هغه به هم د شولو د پخېدو په وخت کې را څرګند کېدلې، دا مرغۍ به د هندوکش د غرونو د لوړو لړیو، کاوون غره او کابل شمالي ولسوالیو د انګورو د خوراک نه وروسته پیدا کې دلې.
ښکاریان یې هم ډېر شوي وو، ډېرو وګړو ټوپک پېرودلي وو او په هغه به یې ښکار کوه، په یوه ډز به یې لسو نه تر شل مرغۍ ویشتلې.
چجو د ښکار مینوال و،
هغه د ټوپک د اخیستلو وس نه در لود.
هغه به خپل ښکار په غولکه کوه.
په ټوله ورځ کې به یې دوې، درې مرغۍ ویشتلې، بیا به یې کور ته وړلې چې ترې پیاوه پخه کړي.
وخت تېر او چجو زلمی شو،
تل به یې له همزولو سره په ښکار کې اخته او سر ګر دانه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښونځي د لوستلو مینه يې هم نه درلوده او همدا راز کلي ته نږدې کوم ښونځی هم نه وه.
د کلي ټول خلک بې زده کړې وو.
په کلي کې يوازې د خان ځامن ښونځي ته تلل، د کلي نور خلک به څه ديني زده کړې د ماجت (مجت، مسجد) د ملا امام څخه کولې.
خلک هم حريص نه ول، پر لږو به يې قناعت کوه او خپلې چارې به يې مخ ته وړلې.
چجو به کله نا کله د خپل خوب په سوچ کې ده او د ولايت بازار ته هم ورته.
يوه ورځ چې ډېر خپه و، د ادينې (جمعې) ورځ وه، ولايت د بازار پر لورې يې حرکت و کړ. پر لاره به يې په زړه وړ ګاټي ټولول او په جيبونو کې يې اچول.
کوښښ به يې کوه چې د ونو سره نږدې لارې نه ولايت بازار ته و رسيږي.
مزل يې ورو و، ځکه هغه به ونو ته کتل چې مرغۍ هم ښکار کړي.

بازار ته ورسېد شا او خوا به يې کتل چې خلک د خرڅلاو له پاره څه راوړي دي؟
ښکار شوې مرغان شته او که نه؟
کله به د سړک په يوې خوا او کله به پر بله خوا د خرڅونکو ننداره کوله.
غرمه نږدې شوه او دا هم ستړی شو، ځان يې يوې لويې ونې ته و رسو.
هلته و درېد،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګو ته يې نظر واچاوو.
خو مرغۍ نه وې.
څو شېبه تر ونې لاندې و درېد.
د سړک بلې خوا ته يې نظر واچاوه چې سترګې يې پر خپل انډيوال ولګېدې .
د انډيوال پر لاس يې باز و.
ورمنډه يې کړه او د سړک نه وا وښت، ملګري ته يې ځان و رساوه او روغبړ يې ورسره و کړ.
ملګرى يې هم د چجو په ليدو خوشحاله شو.
چجو و پوښتل:
روزګار څنګه تېرېږي؟
هغه و ويل:
بد، نه دى؛
مګر ښکار خورا کم شوى دى، ځکه خلک د مرغيو نيولو له پاره د ملټين پوډر نه کار اخلې او دا کار د مرغانو د ورکېدو سبب شوى دى.
ملټين پوډر د انسانانو له پاره هم خطر ناک دى، کوم چې د ملټين په ذريعه مرغۍ نيسي او يا يې خوري.
چجو و ويل:
د باز ښکار څنګه دى؟
هغه و ويل:
مرغۍ هيڅ نه شته!
د باز مړول هم آسانه کار نه دى.
چجو و پوښتل:
باز دې چېرته نيولى دى؟
هغه و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بګرام په ساپي غره کې.
چجو و ویل:
هلته بازان ډېر دي؟
هغه و ویل:
هو!
هلته ډېر مشهوره بازان شته، کله نا کله عربان هلته ځي، بازان په ډېره لوړه (اوچته) بیه پېري او خپل هېوادنو ته یې د ښکار له پاره وړي.
چجو د باز په پښه کې یوه کوشنۍ کړۍ و لیده او له ملګري یې و پوښتل:
دا کړۍ تا د باز په پښه کې اچولې ده؟
هغه و ویل:
نه!
کله چې ما و نیو دا کړۍ یې په پښه کې وه.
چجو و ویل:
دا کړۍ لکه د سپینو زرو غوندېې ښکاري.
ملګري یې و ویل:
هو!
مګر سپین زر نه دي.
ما زرګر ته ښودلې دي.
چجو و ویل:
په کړۍ کې لیکنه ښکاري.
ملګري یې و ویل:
هو!
مګر زه او ته یې نه شو لوستلی، ځکه چې زده کړې نه لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوي په خوړو خبرو اخته ول چې نا څاپه یو موټر راغی او د دوي تر خوا و دربېد.
یوه سړي چې اوږده سپین کالي یې اغوستي، خاصې چپلکې یې په پخښو، پر سر یې سپین څادر او تور چلتار و، دوی ته نږدې شو.
په عربي یې و ویل:
دا باز لیدی شم؟
د چجو ملګري و ویل:
پو نه شوم!
په پښتو یې و وایه.
عرب په اشاره ورته و ویل:
باز کتلی شم.
هغه و ویل:
هو!
واخله!
عرب باز پر لاس کېښنو او ننداره یې پېل کړه.
هغه د باز پښو ته ځیرشو، چې و ګوري پنجې یې کوم نقصان و نه لري او هم اټکلي عمر کچه ( تقریبي سن) یې معلوم کړي.
هغه کړۍ ته ځیر شو.
په لوستلو یې پېل کړ، ګورې چې دا باز د قطر د هیواد نه بېرته وطن ته راغلی دی.
خورا حیران شو،
عرب و ویل:
دا خرڅوې؟
د چجو ملګری پوه نه شو.
بیا عرب له جیبه کڅوړه را و وېسته چې په کې پیسې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................................

هغه کاغذي درهم و وپېستل،
هغه ته يې اشاره و کړه چې څو دانې در کړم؟
د چچو ملګرى خورا خوشحاله شو او دواړو مشوره و کړه اوځنډ وروسته يې و وېل:
لس دانې!
عرب پو نه شو.
بيا يې د ګوتو اشاره و کړه.
د چچو ملګرى لس ګوتې ور وښودې.
هغه هم لس دانې، لس درهمه بانک نوټونه ورکړل، باز يې واخيست او موټر لوري ته روان شو.
عرب ښار کې خپل موټر سره دېخوا او هغې خوا و ګرځېد او خيال يې دا وو، چېرې کوم بل باز هم پيدا او وپېرې.
مګر!
بل چانس يې نه درلود او يوه ګړۍ وروسته بېرته مخ په کابل حرکت و کړ.
د چچو ملګرى ډېر خوشحاله شو.
چچو ته يې د پيسو خواست وکړ.
چچو و ويل:
مننه کوم!
اوس ورته اړتيا نه شته!
کله چې اړتيا شوه، بيا به در باندې غږ و کړم.
هغوي تر مازيګره په ښار کې ول، ماښام نږدې شو.
بيا يې سره خداى پاماني و کړه او هر يو خپل کور لورې ته روان شول.
وخت تېرېده او چچو هم مخ په زړېدو شو.
په ږيره او وېښتانو کې يې سپين ولګېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................................

هر چا به ورته ویل:
چجو واده ولې نه کوې؟
هغه به ویل:
په څه شي واده و کړم، له یوې خوا کار او بار نه شته او د بلې خوا د و لور پیسې هم نه لرم.

بهر ته د کار موندلو له پاره هم نه شم تللی، ځکه چې زده کړې نه لرم.
خورا وخت تېر شو او دی هم د نورو په شان بې ښځې (مجرد) پاتې شو.
خپل ژوند به یې په کوشنیو کارونو تېر وو، ځان به یې پرې چلوه.
یوه ورځ تر ونې لاندې ناست و، په سوچ کې ډوب و، په زړه کې یې د عرب د باز اخیستلو انځور را تېر شو.
له ځانه سره یې و ویل:
ښه به وي چې زه هم بګرام ته لاړ شم، ګوندې کوم ښه باز و نیسم او په عربو به یې و پلورم، بیا به په هغو پیسو واده و کړم او خپل کور به پرې ودان کړم.

کلونه تېر شول او هغه نورهم بوډا شو، د بګرام خیال او هوس به یې کوه، مګر هلته یې څوک نه پېژندل چې څو ورځې او شپې پاتې شي.
همدا راز په غرونو کې ګرځېدل، ملګري، خوراک او اوبو ته اړتیا وي.

یوه ورځ یې پرېکړه وکړه چې کابل ته او بیا وروسته د بګرام ولسوالۍ، د ساپي غره ته لاړ شي، چېرې چې د بازانو ځالې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................................

پیدا کیږي او که سالو، تګ، دريې، ناوۍ لوړو غرو ته لاړ شم چې د بازانو ټاټوبی دی او ځینګرې ځالې لري.
شپه یې خوب و نه کړ او د سهار د لمانځه نه وروسته یې د خپل ورور، چې په لاره کې به ډېر په سختې او امسا په مرسته ګرځېده، او خورا بوډا شوې و، و ویل:
ما د بګرام نیت کړی دی،
هلته ځم چې باز ښکار کړم.
هغه و ویل:
ته هم زما په شان بوډا شوی یې.
د ستا تګ سره موافق نه یم.
ځوک به درپسې و ګرځي، زما په نصیب کې هم اولاد نه شته.
ستا په نصیب کې واده نه و، که نه ستا زامن به زلمیان ول.
چجو و ویل:
زه د خپلې پریکړې نه، نه ګرځم.
بیا کور ته د ننه شو.
هغه له ځانه سره خپل جوړ شوي دامونه، غولکه، ډوډۍ، جواری، ایشولې اګۍ، پیاز، مالګه او د خټو کوزه د اوبو ښکلو له پاره واخیسته بیا یې ورور او وریندارې نه خدای پاماني واخیسته او د سرخکانو دو سرکې پر لور روان شو.

په لاره کې به یې چې کله خلک په مخه ورتلل، ویل یې:
د خدای پامان،
خلکو به ویل:
له خیره!
ده به ویل:
بګرام ته ځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو به ویل:
په خیر لاړ شې.
په مخه دې ګلونه!
ګړی مزل وروسته د سرخکانو دوسرکې ته ورسېد، د موټر په انتظار شو.
هوا ډېره توده وه، د دوبي ورځې وې، هغه د سړک تر څنګ پر یو غټ کاڼي کښېناست او خپل څادر یې پر سر واچوه.

یوه ګړۍ وروسته د کابل ښارموټر له جلال آباد نه را ورسېد، هغه د موټر جنګلې ته و خوت او موټر هم حرکت و کړ.

د ده په ژوند کې د کابل ښار لومړی سفر و.
د موټر د جنګلې نه به یې یوې خوا اوبلې خوا، اوچتو غرونو ته کتل او له ځانه سره یې ویل:

کاشکې دا بازان په دغو غرونو کې اوسېدی، زما له پاره به یې نیول هم آسانه کار وو.

د هغه وخت د غټو موټرو چټکتیا هم ډېره لږه وه، ورو، ورو به یې مزل کوه،
په جنګله کې یې د نورو سره په خبرو پیل و کړ او د بازانو د نیولو خبرې به یې کولې، چا به دا کار د ده له پاره خورا پیچلی باله، ځکه چې هغه اوس بوډا شوی و، دومره د غرونو مزل، لوږې او تندې وس یې نه درلود.

چا به ورته ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځه بابا!
تر دې نیت دې تېر شه!
دا خورا پېچلی کار دی او ته يې نه شې کولای.
چېرته به مړ يې، ستا مړی به څوک بېر ته وطن ته وړي سي.

هغه و ویل:
اوس مې نیت کړی،
و ګورم چې څه کېږي؟
هغه به د خپل ښکار او ماشومتوب کېسې کولې او نورو ورته غوږ نیولی و، ځکه ډېرې په زړه پورې وې.
موټر مزل کوه او چجو هم د ژوند ښکلې کېسې.
وخت ماسپښين شو،
موټر کابل ته و رسېد،
بیا موټر يوه سرای ته دننه شو او و درېد.
د موټر کلینډر، جنګلې ته و خوت او د خلکو يې کرایه ټوله کړه.
بیا يې و ویل:
ستړي مه شي، سفر پای ته و رسېد.
دلته جومات او د اوداسه ځای هم شته،
بله خوا کوچنی هوټل او د شپې د پاتې کېدو ځای هم لري.
چجو هم له جنګلې کوز شو او مخ په هوټل روان شو.
هوټل ته دننه شو او پر تخت کښېناست.
خپله غوټه يې ترڅنګ کېښوده.
د هوټل شاګرد نږدې شو، وې پوښتل:
څه فرمایش لرې؟
هغه و ویل:
چای او ډوډۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه له ځانه سره اېشولې اګۍ او مالګه هم لرم.
شاګرد چاى، پياله راوړه او ده ته يې و ويل:
دا دى ستا چاى،
بوره هم له دې بوتل نه واخله!

هغه چاى د نانوايي تودې ډوډۍ سره و خوړ، بيا يې شاګرد ته غږ
کړ:
شاګرد راغى او وې ويل:
بابا !
څه خدمت و کړم؟
چجو و ويل:
زه د شپې دلته پاتې کېږم او سهار وختي بګرام ته ځم.
شاګرد و ويل:
سمه ده،
د بګرام موټر هم د هغه بل سراى نه ځي.
چجو و ويل:
زه د لمونځ له پاره جومات ته ځم.
پنډ به مې چېرې کېږدم؟
شاګرد و ويل:
دلته، تر تخت لاندې يې کېږده.
چجو خپل پنډ تر تخت لاندې کېښود او د هوټل نه د باندې شو.
کابل کې هوا لږه سړه وه، نرى باد چلېده.
چجو اودس و کړ او لمانځه ته روان شو.
د ماسخوتن له لمانځه نه وروسته هوټل ته راغى او پرتخت
کښېناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوټل کې د راډيو غږ و، کله به يې خبرونه او کله به يې بدلې هم اېښودلې.
شپه پخه شوه او شاګرد غږ کړ:
مسافرو!
د اليکن تېل لږ دي.
شپه جوړه کړئ!
د سهار لمانځه له پاره، زه تاسو ويښوم.
چجو هم ويده شو.
سهار ورسېد او شاګرد غږ کړ!
هله!
پاڅېږئ!
د لمانځه وخت دی.
مسافر را پورته شول، د اوداسه او لمانځه له پاره جومات لورې ته روان شول.
چجو هم د نورو په شان جومات خوا ته روان شو، لمونځ يې په جمعې سره ادا او بېرته هوټل ته ستون شو.
پرتخت کښېناست او د هوټل شاګرد ته يې غږ کړ.
ماته شين چای راوړه.
شاګرد چای راوړ.
هغه چای وڅښه.
بيايې شاګرد ته و ويل:
د بګرام د موټرو اډه چېرې ده؟
د هوټل خاوند و ويل:
اول خپل حساب پاک کړه.
بيا زه درسره خپل بل شاګرد لېږم.
چجو خپل د پيسو حساب پاک کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د هوټل مالک پر خپل بل شاګرد غږ کړ:
الکه!
دا بابا د بګرام د موټرو اډې ته ورسوه او ډېر ژر بېرته راشه چې
د هوټل صفايي و کړې!
شاګرد و ویل:
سمه ده!
هغوی د بګرام د هډې پر لور روان شول.
اډې ته ورسېدل،
شاګرد چې ډېرې درېوران پېژندل پر موټروان یې غږ کړ:
دا بابا ته په جنګله کې ځای ورکړه،
مسافر دی.
پېسې لرې لري.
بیا شاګرد و ویل:
بابا!
په مخه دې ګلونه!

شاګرد بېرته هوټل ته ستون شو.

چجو د موټر په جنګله کې وخوت .
پڼد یې کېښود او خپله یې ورته اړخ و لګو.
څنډ وروسته، موټر ډک شو.
د بګرام پر لور یې حرکت و کړ،
هوا ډېره ښه وه، دومره ګرمي نه وه لکه د لغمان د ولایت.
لمر و، آسمان شین، باد چلېده، هرې خوا دښتې شنې او غرونه روښانه ښکارېدل.
چجو په سوچ کې ډوب و او له ځانه سره یې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه به چېرته پاتې شم؟
بازان به څنګه و نیسم؟
له ځانه سره يې سوچونه وهل او غرونو خوا ته به يې کتل.
موټر د بګرام خوا ته نږدې شو، نا څاپه پر يوه باز چې په هوا کې ډېر تند وزرونه وهل، ولګېدې.
باز داسې ښکارېده چې کوم ښکار يې تر نظره دی.
چجو ډېر خوشحاله شو او په زړه کې يې و ويل:
چجو!
اصلي ځای ته را ورسيدې، که خدای کول، ښه بازونه به و نيسې او بيا به يې په عربو و پلورې.
مزل لنډېده او موټر هم ولسوالۍ بازار ته نږدې کې ده.
بازار راو رسېد، موټر يوه سرای ته دننه شو او لږ ځنډ وروسته و درېد.
کلينډر غږ کړ!
کرايې را واخلئ!
و ګورئ چې په موټر کې موښه پاتې نه شي.
چجو خوشحاله ښکارېده او د موټره کوز شو.
کرايه يې ورکړه او د سرای نه د باندې و وت.
د سرای د باندې د دېوال تر څنګ و درېد، په سوچ کې شو او له ځانه سره يې و ويل:
خدايه!
شاوخوا سپېرې دښتې دي،
غرونو خوا ته هېڅ ونې او شينوالی نه ښکاري!
زموږ لغمان خو ډېر شين و،
شنې ونې، شنه فصلونه، ډکې د اوبو ويالې!
ديوال خواته ولاړ و چې يوه تن ور نږدې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دری ژبه یې و ویل:
کاکا!
,, توخانه نمی روی؟
یا منتظر کسی هستی؟،،
چجو په دری ژبه نه پوهېد او په پښتو یې و ویل:
پوی نه شوم.
سړي و ویل:
تو مسافر هستی؟
چجو د مسافر په کلمه پوه شو او وې ویل:
هو!
زه مسافر یم.
نږدې جومات شته؟
هغه ورته د جومات لاره وښوده او ترې روان شو.
چجو جومات ته ورسېد.
د یوه سړي نه یې پوښتنه و کړه:
جومات مسافر خانه لري؟
هغه و ویل:
بلی!
دارد!
بیا یې د جومات حجرې ته اشاره و کړه او وې ویل:
کاکا!
آنجا مسافرخانه است.
چجو و ویل:
ډېره مننه!
هغه پوی نه شو او وې ویل:
خو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



درست است.
چجو د مسجد حجرې خوا ته روان شو، ګورې چې دروازه یې
تړلې ده.
د دروازې تر خوا کښېناست او غوږه یې هم کېښوده، بیا یې ځادر
اوار کړ، غوږه یې سر ته کېښوده او لږ خوب یې و کړ.
مئوزن د مازیګر په آذان پیل کړ.
چجو له خوبه راویښ شو.
مئوزن هم د آذان نه خلاص شو،
د چجو څنګ ته نږدې شو او وې پوښتل:
کی را کار داری؟
چجو و ویل:
پوه نه شوم!
مئوزن په پښتو ژبه پوهېده او ورنه یې په پښتو و پوښتل:
مسافر یې؟
چجو و ویل:
هو!
بیا مئوزن و پوښتل:
د کوم ځای نه راغلی یې؟
چجو و ویل:
د لغمان د قرغیو ولسوالۍ نه.
مئوزن و پوښتل:
د څه له پاره دلته راغلی یې؟
چجو و ویل:
زه یوه ښکاري یم او د ښکار له پاره دلته راغلی یم.
مئوزن و ویل:
د څه شي ښکار له پاره؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه و ویل:
د بازانو ښکار له پاره،
مئوزن و ویل:
بازان خو د غرونو په جګو ځایونو کې اوسېږي،
بیا یې و ویل:
ته یوازې یې او که بل څوک هم درسره شته؟
چجو و ویل:
نه!
زه یوازې یم.
مئوزن و ویل:
د تا له پاره هلته ختل، ډېر سخت کار دی.
ښه به وي چې د دغه ښکار نه ډډه و کړې او بېرته کورته لاړ شې.
چجو و ویل:
پوهېږم!
مګر اوس مې نیت کړی دی.
باید هرو مرو الته لاړ او باز ښکار کړم.
مئوزن و ویل:
ستا خوښه!
اوس به جمعه تیاره شي.
الته د اودس خونه ده، کولای شې اودس و کړې او بیا دې برنډې ته راشې.
چجو اودس خونې ته لاړ.
لږ ځنډ وروسته بېرته راستون شو.
په دې وخت کې خلک د لمونځ د ادا کولو له پاره ماجت (مجت، مسجد) کې راټول شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ماجت ښکلې برنډه وه او د پوزي فرش په کې اوار وو.
ملا امام هم د خپل کور نه را ورسېد.
بیا مئوزن غږ کړ،
راځئ جمعه تیاره ده،
بیا یې اقامت و ویل!
چجو هم د خلکو سره یوه ځای لمونځ ادا کړ.
بیا مئوزن چجو ته و ویل:
کله د ښکار لورې (خوا) ځې؟
هغه و ویل:
سبا مې نیت دی،
مئوزن و ویل:
سمه ده!
په دغه حجرې کې خپل پېڅد د ننه کړه.
چجو خپل پېڅد د ننه کړ.
مئوزن و ویل:
خپل پېڅد دغې توشکې خوا ته کېږده، بیا کولای شې چې په همدې توشکې، د شپې ویده شې.
چجو و ویل:
سمه ده!
مئوزن له کوټې و وت او وې ویل:
دلته موږ مسافرو ته ډوډۍ او چای هم ورکوو، ته سوچ مه کوه.
چجو خوشحاله شو.
ماښام شو، خلکو لمونځونه په جمعې سره ادا کړل.
هوا تیاره شوه!
مئوزن د حجرې خوا ته روان شو.
دروازه یې خلاصه او چجو ته یې غږ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................................

دا دی، زه درته شیطان څراغ روښانه کوم.
هغه څراغ روښانه کړ.
او چجو ته يې د اور لګيد ځای هم و ښود چې د اړتيا په وخت کې ترې ګټه واخلی.
د ماسخوتن لمونځ وخت را ورسيد.
مګر د لمانځه له پاره لږ خلک ټول شوې وو.
ځکه چې د ډېرو خلکو کورونه لرې وو.
په حجره کې يوه بل مسافر هم و.
هغه د مزارشريف د سفر نيت درلود.
لږ وخت تېر شو.
د کلي دوې ځوانانو مسافرو ته ډوډۍ او تود چای راوړ.
مئوزن، چجو، بل مسافر ډوډۍ و خوړه او چای يې هم و څښل.
بيا مئوزن و ويل:
چجو وروره!
تا د سفر له پاره خوراکي شيان راوړي دي؟
هغه و ويل:
هو!
زما سره اېشولې اګۍ، ډوډۍ، جواری، پياز، مالګه، د اوبو ختينه کوزه او همدا راز د ښکار وسايل شته.
مئوزن و ويل:
ډېر ښه!
پام کوه چې په غرونو کې ځناور او خزندګان لکه مار، لړم، غونډل هم ليدل شوي دي.
مئوزن زياته کړه!
دا کېسه ماته ښکاريانو کړې ده.
چجو و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



..................................................................................................

زه ښکاري يم او داسې شيانو سره بلد يم.
شپه پخه شوه او مئوزن و ويل:
راځی چې ويده شو!
سبا، تاسو سفر لرئ!
مسافرو و ويل:
سمه ده!
بيا به سبا خبرې و کړو.
هغوی ويده شول.
د آذان وخت شو، مئوزن د سهار آذان و کړ.
مسافر هم د اوداسه له پاره چمتو شول.
د کلي خلک هم په ټولېدو شول.
ملا امام ورسېد او لمونځ پېل شو.
مسافر د مئوزن سره بېرته حجرې ته لاړ.
لمر وخوت او هوا مخ په تودېدو شوه.
د کلي خلکو د سهار چای راوړ.
درې واړو په شريکه، د سهار چای و څښنه.
لومړی مسافر چې مزار شريف ته يې د سفر نيت کړی و، خدای پاماني واخيسته او روان شو.
بيا چجو له مئوزن نه اوبه وغوښتې، خپله ختينه کوزه يې ډکه کړه،
همدا راز يې ترې د نږدې غره د بازانو د ښکار ځای پته واخيسته.
چجو د مئوزن نه مننه و کړه او مخ پر ساپي غره، روان شو.
مئوزن پرې غږ کړ.
کله چې ببر ته خپل کلي ته تللې، دلته راشه.
شپه به دلته و کړې او بيا به خپل وطن ته لاړ شې.
چجو و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................................

سمه ده!
حتماً!
چجو روان شو.
ماسپښين د غره لمنې ته ورسېد.
د غره په ختلو يې پيل کړ،
ماښام د غره منځ ته ورسېد.
هغه ډېر ستړی شوی و، له يوې خوا هوا توده او له بلې خوا دی سپين ږيری شوی و.
ځان يې يوه غټ کاڼي ته و رسو او تر شا يې لږ اواره ځای پيدا کړ.
خپل پنډ يې پر ځمکه کېښود، هغې خوا او دې خوا ته يې و کتل!
څه نه په سترګو کېدل،
کوشني کاڼي يې لرې او ځای يې پر لاسونو اوار کړ، څادر يې و غوړاو او غوټه يې ځان ته نږدې کړه.
اېشولې اګۍ او يوه غوټه پياز يې هم پر څادر کېښود.
جواری يې له دستماله واخيست، اګۍ يې پاکه کړه، پياز يې په سوک و وهه، ټوټه يې کړ، بيا يې مالګه واخيسته او پر اګۍ او پياز يې و دوړوله.
پر خوراک يې پيل کړ.
په خورا خوند يې و خوړ.
د اوبو کوزه يې واخيسته او لږ اوبه يې و څښلې.
په سوچ کې ډوب شو.
هوا لږ تياره وه،
څه نه ښکارېدل.
پر ده هم خوب راغی.
سره يې پر غوټه کېښود او ويده شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار وختي له خوبه ویښ شو.
لومړی یې آسمان او وروسته یې غټو کاڼو ته و کتل!
څه نه ښکارېدل!
لمر تود شو.
چچو د ډبري شا او سیوري ته ځان سم کړ.
بیا یې په کتنه پیل کړ.
لرې یې په آسمان کې څه و لیدل چې غره ته را نږدې کېږي.
په ننداره کې یې ډوب شو.
مرغه ته ورته و.
مرغه ورو، ورو را نږدې کېده،
ګوري چې باز دی.
باز نور هم را نږدې شو او د چچو د پاسه تېر شو.
باز تر هغه د پاسه پر یو غټ کاڼي کښېناست.
بیا له ډبرې کوز شو.
چچو د هغه ننداره کوله.
څه وخت تېر شو، باز بېرته د ډبرې پر سر څرګند شو او والوت.
د چچو له سره، د دښتې په لور الوتنه یې پیل کړ او څو دکیکې وروسته له سترګو پنا شو.
چچو هم خپله غوټه واخیسته او دهغې غټې ډبرې په لور روان شو.
هغه ډېر په سختی سره غره ته پورته کېده.
ګړی وروسته هغه ځای ته ورسېد.
څه یې و نه لیدل.
بیا د ډبرې شا او خوا ته تاو را تاو شو،
څه تر سترګو نه کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.................................................................................................

د غټې ډبرې بلې خوا، بله ډبره وه، چې ترې لاندې يې سورى او د ونو وچکي ښکارېدل.
هغه ور نږدې شو.
ګورې چې د باز ځاله او دوې بازونې په ځاله کې ښکاري.
نور هم ور نږدې شو.
بازونې واړه او نوې بڼې پرې ختلې وې.
چجو ډېر خوشحاله شو او له ځانه سره يې و ويل:
دا دى، هم باز او هم بازونې!

بازونه به په عربو و پلورم او بازونې (د باز زوزات، زوزان، بچې) به يې ځانته د ښکار له پاره و ساتم.
بيا کښېناست؛ شا او خوا يې و کتل:
هرې خوا چوپ او چوپتيا وه.
پاس شين آسمان او لاندې دښته ښکارېده.
دى ښېرته را کوز شو.
خپله غوټه يې خلاصه او پر دام يې لاس تېر کړ.
پريکړه يې وکړه چې ښېرته پاس و خېژي، الته چې د باز ځاله وه.
پنډ يې را واخيست او د باز د ځالې لورې ته روان شو.
ځالې ته و رسېد.
بيا د غټ کاڼي خواته  لاړ چې ښه ځاى پيدا کړي.
ښه ځاى يې پيدا کړ او د باز په انتظار شو.
زړه يې طاقت و نه کړ او بيا ځالې ته نږدې شو.
ځالې ته، لاس رسى نه وه.
له ځانه سره يې سوچ و کړ چې:
د ځالې نه بهر ورته دام کېږدم او و به يې نيسم.
بيا لږ وروسته پښېمانه شو او له ځانه سره يې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



............................................................................................

که بازونه ونیسم، بچیان به یې له ولږې مړه شي، زه به ګناکاره شم.
ښه به دا وي چې لږ انتظار و باسم چې، بازونې غټ شي، ټول به یوه ځای و نیسم او له ځانه سره به یې ویسم.
بازونې به، ورځ پر ورځ غټېدل.
ځالې ته یوازې یوه باز راته.
چجو سوچ و کړ چې حتماً بل باز چا نیولی او یا هم له مینځه تلی دی.
هوا مخ په تودېدو او د چجو حوصله هم په لږېدو شوه.
له یوې خوا روژه را نږدې کېده او له بلې خوا د هغه خواړه، اوبه مخ په خلاصېدو ول.
بازونې ورځ  په ورځ غټېدل، مګر د چجو خواړه او اوبه خلاصې شوې.
حوصېله یې هم لږه شوه،
 غوښتل یې چې بازونې ژر په الوتو شي، دی باز ښکار او له غره نه سمې ته را کوز کړي.
هغه خورا ضعیف شوی وو او په سختۍ به یې ځان، ځالې ته رسوو.
سبا یې پرېکړه و نیوله چې دام کېښنوي، ځکه چې بازونې الوتنې ته تیار دي.
په خورا سختۍ یې دام کېښود او په خپله تر بل کاڼي پټ شو.
شپه راغله او دی دلته بیده شو.
د باز چغهار، دی راویښ کړ.
وخت سهار وو.
سترګې یې و مښلې، لومړی یې آسمان، بیا یې کاڼي ته و کتل.
د ودرېدو وس یې نه درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړ لړ په سینه یې ځان و کاږه او د باز د ځالې پر لور یې حرکت و کړ.
پر باز یې سترګې و لګېدې چې په دام کې بند دی.
غوښتل یې چې ځان نږدې کړي، او باز په لاس کې و نیسي.
مګر امکان نه و.
لړ یې نور هم ځان نږدې کړ،
چجو بې هوښه شو،
څنډ وروسته، بېرته په هوښ راغی.
چجو په خولو لوند و.
آسمانه ته یې و کتل.
آسمان هم د تل په شان شین و.
بیا یې د باز خوا ته و کتل.
سترګې یې خیره شوې وې.
په سختۍ یې باز تر سترګو شو.
بیا یې سترګې پټې شوې.
څنډ وروسته یې سترګې پرانستې او لاندې یې و کتل.
څه نه ښکارېدل.
پر سترګو یې تیاره راغله.
بیا یې آسمان ته وکتل؛
آسمان هم د پخوا په شان شین نه و.
شین رنګ ورته خړ ښکاره شو.
سوچ یې و کړ چې آسمان وریځ دی.
بیا یې سترګې د باز خوا ته واړولې.
ده د باز او باز د ده ننداره کوله.
باز د دام په لومه او دی د باز په مینه کې ډوب شو.
غرمه او هوا خورا توده شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باز هم ډېرتړې شو.
لوړې او تندې هغه هم کمزورى کړی و.
بيا سهار له تندې، ولږې او ګرمي مړ شو.
د باز بچېانو له ځالې سر را و ويست او د باندې شول.
لومړی پر ډېره کښېناستل.
څو دکيکې يې يوې خوا او بلې خوا ته وکتل.
بيا يې پر باز چې هره ورځ به يې دوی ته خواړه راوړل، سترګې و لګېدې.
هغه بې ځانه پروت و.
هغوی ډېر وږې شوي ول.
يو بل ته يې و کتل؛
او مخ پر دښتې يې په الوتو پيل کړ.
هغوی وا لوتل،
او بريالي شول چې خپل ژوند ته دوام ورکړي.
د وطن په جګو جګو غرونو يې الوتنې و کړې او د خپل نسل خپرولو له پاره وا لوزې او د ځان له پاره ښکار و کړي.
چجو بې هوښه و.
له غره و ښويد، د غونډسکې په شان کلوله او د غره لمنې ته ورسيد.
اندامونه يې ټوټه، ټوټه شوې ول.
مخ او سر يې په وينو رنګ وو.
شپه راغله.
سهار شو!
لمر ختو ته نږدې شو،
هوا روښانه شوه.
د شپنو رمې د غره په لمنې په څرېدو شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوزې يې لړ پاس و ختې.
او د ډبرو په منځو کې په ځرېدو شوې.
پسونه هم هغوی پسې روان شول.
مګر ختنه، د هغوي له پاره ستونزمنه وه.
غرمه شوه، مګر اوزې نورې هم د واښو خوړلو له پاره د ډبرو په منځ کې ګرځېدې.
مازيګر شو.
شپانه د اوزو او پسونو په ټولولو غره خوا ته روان شول.
ځوان شپون مخکې او سپی يې ور پسې و.
سپي له لرې څه و ليدل.
هغه په غپا شو.
ځوان شپون سپي خوا ته منډه کړه.
هغه هم يوه تور شی وليد.
لړ نږدې شو!
خيال يې و کړ چې کوم پسه مردار شوی او يا ليوه داړلی دی.
خورا خپه او په منډه خوا ته يې ورسيد.
وې ليدل چه پسه نه، بلکې انسان دی.
وې خوځو مګر، هغه مړ و.
بل شپون ته يې هم غږ کړ.
مړی يې په ګډه را کوز کړ.
بيا يې وروسته خپلې خېمې خوا ته نږدې کړ.
په دې و خت کې نور شپانه هم را ټول شول، هوا تياره او ماښام نږدې وو.
سپين ږيرو پرېکړه و کړه، تر څو درې کسه ولسوالۍ ته و لېږي او مسله (موضع) د وخت دولت سره شريکه کړي.
کسانو حرکت و کړ او شپې ناوخته ولسوالۍ ته و رسېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................................................................................

مسله یې ولسوال ته بیان کړه.
هغه موټر آماده کړ.
یوه افسر او درې عسکر یې سیمې ته و لیږل.
هغوی وروسته تر لمر ختو، سیمې ته و رسېدل او مړی یې ولسوالۍ ته راوړ.
بیا یې په بازار کې ډندوره کړه چې:
یوه مړی پیدا شوی.
خپلوان یې کولای شي وېسي (تسلیم شي).
په سلګونو خلک راټول شول، مګر چا و نه پېژنده، په ناڅاپي توګه، د مئوزن په یاد راغی چې یوه ښکاري سیمې ته د باز د نیولو له پاره تللی و.
بیا هغه مړي ته نږدې شو.
شا او خوا ترې تاو، سترګې یې د هغه په غولکه ولګېدې او پوی شو چې هماغه ښکاري دی.
بیا یې داستان د ولسوالۍ څارواکو سره شریک کړ.
ولسوال موټر چمتو کړ، مړی یې په موټر کې کېښود.
درې عسکر یې د لغمان د قرغیو ولسوالۍ ته، جنازې سره ولیږل.
مړی سیمې ته و رسید.
خلک راټول او د ښنولو بند او بست یې و کړ.
هغه یې کلي ته نږدې او د خدای جان بابا ادیرې کې ښخ کړ.
د خدای جان بابا ادیره خورا مشهوره ده، د مستوفي صیب عبدالاحد خان اتمر د کلا سویل خوا ته غونډۍ کې ده، د غونډۍ سر کې یوه د ډبرو څلورڅنډی دیوال (انګړ) و، شا او خوا یې د غزونو غټې ونې وې.
ټول قبرونه شمال - سویل وو، د څلورڅنډي دیوال (چاردیوالې) قبرونو سره یې ډېر توپیر درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا قبرونه ډېر اوږده او ختیځ – لویدیځ پراته وو.
ځیني خلکو به یې درناوی (احترام) کوه او ویل یې:
دا د پخوا وختونو مجاهدین او شهیدان دي.
مګر زما له پاره د قبرونو اوږدوالی او خوا (جهت) یې خورا د تعجب وړ و.
کله چې ما د کابل په زوړ ښار کې څېړنه (تحقیق) کوله داسې قبرونو سره مخ شوم؛ هغه ماته هم د اېرانتیا (تعجب) وړ ول.
ما خپلې څېړنې بشپړې (تحقیقات تکمیل) او درې کتابونه مې په دري ژبه چاپ کړل.
ولې دا سکالو (موضوع) مې په یاد وه، کله چې وطن ته لاړم بیا مې د کرونده ګر زوی سره مخ په ادیرې حرکت و کړ.
ادیرې ته چې و رسېدم، شا او خوا و ګرځېدم د هغه قبرونو اثر نه وو.
التبه نوي قبرونه ښکارېدل.
کرونده ګر د زوی نه مې و پوښتل:
دلته پخوا اوږده قبرونه وو، اوس نه ښکاري؟
هغه و ویل:
هو!
هغه قبرونه لږ توپیر درلود.
وګړي د داسې قبرونو کېندلو په لټه کې وو، هر چا به کوښښ کوه چې دا ډول قبرونه وسپړي.
هغه قبرونه د مستوفي صیب د کرونده ګرو له خوا د شپې وسپړل شول.
روښانه شوه چې په هغه قبرونو کې د ګچو مجسمې وې.
کرونده ګرو هغه مجسمې کورته وې وړې، چې ځنې ځایونه یې هم مات شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما هم ډېر کوښښ و کړ چې ترې انځورونه و لرم، تر اوسه پورې پر دې کار نه یم بریالی شوی.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چاپ شویو کتابونو لېست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلایی
(برای اساتید انستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه/ دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



..............................................................................

۱۹. منار جام – الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکې - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچین (ناول به زبان پښتو)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۹. برف ها آب میشود
۴۰. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
۴۱. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
۴۲. بوډا ښکاري (ناول به زبان پښتو)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کار لاندې کتابونو لېست

۱. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
۲. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
۳. لیونی لېوه
٤. بې زده کړې پوی
٥. شپنه ادې
٦. کوشنۍ سوداګره
۷. سپین کارغه
۸. سور تنور
۹. خړه بیزو
۱۰. بندي مرغه
۱۱. توده برستن
۱۲. بې وخته باران
۱۳. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



.......................................................................................

## د امکان او وخت په صورت کې

١. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
٢. تاریخ معماری افغانستان
٣. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٧. شیطان چراغ
٨. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# An old

# Hunter

Written by:
Architect PHD
Hashmatullah Atmar
November/December

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**